# افضل خان خټک او د هغهٔ بازنامه

ډاکټر حنيف خليل

**Abstract**:

Afzal Khan Khattak and the Controversy of Baznama:

Khushal Khan Khattak(---) the reckoned poet, scholar,warrior and leader have enriched the Pashto literature with his various creations both in poetry and prose. This paper is going to discuss a controversy regarding one of his reckoned poem entitled "Baznama". Baz in Pashto means the Falcon which was one of the greatest distinction of Khsual Khan's diction for illustrating his ideal character. It is reported that he had written two different Baznamas that is in Pashto and Persian. In 1985 Khushal Research cell published an account of the reckoned poet, researcher and critique Hamesh Khalil which consists of Baznama ascribed to well known Pashtoon historian Afzal Khan Khtattak, the grandson of Khushal Khan Khattak. This account consists of prose while the formerly discussed Baznamas are reported as in the poetic form. This paper is going to evaluate the controversy that how the same titled creations of the grandson and grandfather are distinct and what degree of authenticity it caters if the Baznama in prose which superficially carries information regarding Baz(Falcon) is a creation of Afzal Khan Khattak or it is a replication of the same one as undoubtedly belong to the Khushal Khan Khattak. The writer has triangulated various sources of textual and chronological references which concludes that the Baznama is a narration of Afzal Khan Khattak.

په کال **1985**ء کښې د خوشحال ريسرچ سېل دپاره د ښاغلي همېش خليل له خوا ترتيب شوې د خوشحال خان خټك د منظومې بازنامې نه تقريباً شپږ مياشتې پس د افضل خان خټك د پښتو د نثري بازنامې اردو ترجمه چې ښاغلي رضا همداني کړې وه. د ذکر شوي سېل له خوا چاپ شوه. دې نه علاوه چې خوشحال خان خټك په فارسي ژبه کښې هم د يوې بازنامې ليکلو دعوه کړې وه. دغه ذکر شوې بازنامه چې د ښاغلي همېش خليل د تحقيق او پېش نامې سره د اداره علم و فن له خوا په کال **1994**ء کښې چاپ شوه. هم د

خوشحال خان ختټك ګڼلي کېده. دا بازنامه د خوشحال خان ختټك ولې نۀ ده او د افضل خان ختټك څنګه ده؟ په دې به وروستو بحث و شي چې ښاغلي همېش خلیل هم ورته اشاره کړې ده. دغه بازنامه چې د بازونو د رنګ او نسل د هغې د اموخته کولو او تیارولو، د هغې د ښکار او مختلفو قسمونو وغېره په بیان کښې لیکلې شوې ده. په دیارلسو بابونو مشتمله ده. وړومبے او اووم باب اووۀ اووۀ فصله، نهم باب درې فصله، دیارلسم باب شپږ فصله او باقي بابونه یو یو فصل لري. اکثر موضوعات یې د خوشحال خان ختټك د منظومې بازنامې په موضوعاتو اړانه لري او د اکثرو موضوعاتو د زیات وضاحت دپاره د خوشحال خان ختټك د منظومې بازنامې نه شعرونه پېش شوي دي چې ښاغلي همېش خلیل ورته اشاره کړې ده. د لیك انداز او ژبه یې د تاریخ مرصع انداز او ژبې سره سمون خوري. په شروع کښې مصنف په خپلو خبرو کښې د ښکار په اهمیت او شرعي حېثیت په دې الفاظو کښې رڼا اچولې ده:

"ښکار د مرغونو حضرت محمد ﷺ نۀ دے کړے، نۀ اصحاب کبار ﷺ کړے دے او که چا کاوۀ منع کړے یې هم نۀ دے. ښکار د هوا دپاره منع دے. چې په دا څوك اوقات صرفوي. بهتر کسب د دنیا دے..... ښکار د حاجت دپاره رخصت دے، نۀ طاعت نۀ عبادت دے..... که په نورو باطل مشغول وي چې ګناه یا هوا وي. د ښکار شغل بهتر دے. د سپاهي ګیري علم ته استعمال د ښکار په کاریږي"(1)

د دغې بازنامې په پېش نامه کښې په لاندینو دوو نکتو ډېر زور ور کړے شوے دے:

(1) دغه بازنامه د خوشحال خان ختټك نۀ ده بلکې د افضل خان ده.

(2) د افضل خان د پیدایښ او مرګ نېټې څۀ دي؟

وړومبۍ نکته:

د وړومبۍ نکتې په بابله ښاغلي مرتب د ښاغلي نواز طائر د دې رایې په جواب کښې چې: "دغه بازنامه د خوشحال خان ختټك کېدے شي"(2). په تفصیل سره وضاحت کړے دے او دلیل یې پېش کړے دے چې د مصنف له خوا دغه الفاظ لیکل چې:

"سائر باز ډېر نهٔ وي لکه لوئے خان يې تعريف کړے دے. په خپله نظم بازنامه کښې". دا حقيقت په ډاګه کوي چې دغه بازنامه د خوشحال خان نهٔ ده ځکه چې لوئے خان (خوشحال خان خټك) او د هغهٔ منظومې بازنامې ته په کښې اشاره شوې ده دې نه علاوه په دې بازنامه او تاريخ مرصع کښې د بهادر شاه وفات( 1124هـ) د زوئے شهزاده رفيع القدر چې خطاب يې رفيع الشان ؤ. په يو رنګ ذکر د دې خبرې دليل کېدے شي چې دا بازنامه د افضل خان خټك ده.

د ښاغلي همېش خليل د پورتنيو دليلونو نه علاوه. دغه لاندېني دليلونه چې هغهٔ ورته اشاره نهٔ ده کړې. د هغهٔ رايې نوره هم مضبوطوي:

(1) مصنف په دغه بازنامه کښې ليکي چې: "تر حده د دهٔ سالګي لورې تقاضا د نور هوا هوس کاوهٔ، پس له ده سالګي شپږ ديرش کال د شکار د هوا هوس و شهٔ"(3).

خوشحال خان خټك په خپله منظومه بازنامه کښې دغه لاندېني شعرونه هم ليکلي دي:

خدايه! تهٔ په زړهٔ کښې اچوې دا مينې
چې په ښکار دې مبتلا کړم تهٔ مې وينې

چې ښې کيشنې مې پېژندلې دي دا مينه
تا زما په زړهٔ کښې ځائے کړله قرينه

په طفلۍ مې د چمنو د چتو ښکار ؤ
زلميتوب مې د هوسيو سريکار ؤ

ورپسې مې له مرغونو سريکار شهٔ
جان و هوش مې همګي د باز د ښکار شهٔ

هم مې کړهٔ د دنيا څو رنګه کارونه
هم مې هيڅکله ناغه نهٔ وو ښکارونه (4)

د پورتنیو شعرونو او د هغې نه مخکښې اقتباس نه دغه لاندینې وضاحتونه کیږي:

(1) د دغې بازنامې مصنف د لسو کالو عمر پورې ښکار نهٔ دے کړے. او د لسو کالو عمر نه پس یې ښکار سره شوق پیدا شوے دے.

(ب) خوشحال خان ختک چې په ښهٔ بد پوهه شوے دے نو ښکار یې شروع کړے دے. په ښه بد عموماً سړے د شپږو یا اوو کالو په عمر کښې پوهیږي بلکې د دې نه هم مخکښې پوهیږي. خوشحال خان ختک په وړوکوالي کښې د چتو ښکار کولو. په زلمیتوب کښې یې د هوسیو او بیا یې د مرغانو خصوصاً د باز ښکار ته توجه وګرځوله. د دنیا نور کارونه به یې هم کول خو ولې د ښکار ناغه یې هیڅکله نهٔ ده کړې.

د پورتنیو وضاحتونو په خپلو کښې د اختلاف نه دا معلومیږي چې دغه دواړه بازنامې د یو کس نهٔ شي کېدے. ځکه نو دې بازنامې ته د خوشحال خان ختک وئېل درست نهٔ ښکاري.

مصنف په دغه بازنامه کښې لیکي چې: "زمونږ پلار په ګور یې نور شه. چې په لور د لاچی به روان شهٔ په وقت د زمستان چې ښهٔ بازونه به وو. د هغه به یې په کور په سرای کښې پرېښول. په دا سبب چې مسافریدهٔ په سردي کښې به ضائع شي"(5).

په پورتني اقتباس کښې د بازونو سره شوق او لاچی ته اکثر تلل. په دې خبره رڼا اچوي چې "زمونږ پلار" نه مراد د خوشحال خان ختک پلار شهباز خان ته اشاره نهٔ ده بلکې د افضل خان ختک پلار اشرف خان هجري ته اشاره ده. په دې وجه مونږ وئېلے شو چې مذکوره بازنامه هم د افضل خان ختک ده.

## دویمه نکته:

د ذکر شوې بازنامې د پېش نامې دویمه او اهمه نکته د افضل خان ختک د پیدایش او مرګ د نېټو په بابله ده. دغه مسئله په واضح ډول تر اوسه پورې نهٔ ده حل شوې چې افضل خان کله پېدا او کله وفات شوے دے؟(6).

ښاغلي همېش خلیل په دغه بابله تر فروري 1994ء پورې خپله وروستۍ رائې په ذکر شوې بازنامه کښې پېش کړې ده چې په ترتیب سره به پرې بحث و شي.

**(ا) د پېدایش نېټه:**

د افضل خان خټك د پیدایش د نېټې په بابله ښایي چې صحي نېټه یې معلومه نهٔ ده. خو د هغهٔ د پلار اشرف خان هجري د ګرفتارۍ په کال 1092هـ د تاریخ مرصع د روایت مطابق هغو د شپاړسو یا اولسو کالو وو. په دې حساب د هغه د پیدایش نېټه (1092- 17 یا 16) 1075هـ یا 1076هـ جوړیږي"(7). سره د دې چې دغه رائې هم هغه زړه رائې ده چې د دې نه مخکښې هم پرې ډېرو محققانو تکیه کړې ده. خو ولې بیا هم دغه لاندیني شهادتونه یې مرسته کوي.

(1) خوشحال خان خټك په دستار نامه کښې په اوولسم هنر د تحقیق نسب کښې د خپل خاندان د شجرې ابتدا د افضل خان خټك د نوم نه داسې کوي:

"ابتدا به یې له خپله نمسیه کړم چې افضل خان دے. افضل خان د اشرف خان، اشرف خان د خوشحال خان، خوشحال خان د شهباز خان ......."(8).

دستار نامه په کال 1076هـ کښې لیکلې شوې ده چې خوشحال بابا یې نېټه په یوه قطعه کښې ښودلې ده"(9).

په دې حساب په دستار نامه کښې د افضل خان ذکر را تلل دا ښایي چې هغه د کال 1076نه وروستو خو نهٔ دے پېدا شوے. خو دا نهٔ ده معلومه چې د دغه کال نه څومره وړاندې پیدا دے.

(2) د خوشحال خان خټك فراق نامه په کال 1075هـ کښې لیکلې شوې ده"(10).

د "فراق نامه" په دې شعر کښې چې:

هغه ملك واړه بخمل دے
چې په کښې دِ ما افضل دی (11)

د افضل خان ذکر را تلل دا خبره نوره هم واضحه کوي چې هغه په کال **1075هـ** کښې هم موجود ؤ.

(3) له دې نه پس اکثرو محققانو هم دغه نېټه صحي ګڼلې ده او مکمله تکيه يې پرې کړې ده. عبدالحی حبيبي صاحب په پښتانهٔ شعراء (وړومبي ټوك) کښې، کامل مومند صاحب په خپل کتاب 1630 کښې، نواز طائر صېب په روهي ادب کښې، صديق الله رښتين د پښتو ادب تاريخ کښې، حبيب الله رفيع صېب په اواره شيدا کښې او ډاکټر اقبال نسيم خټك صاحب د رنګ اوبو قافله کښې د هم دغه رايې مرسته کړې ده.

هر کله چې د افضل خان خټك د پيدايش دغه نېټه اندازاً ټاکلې شوې ده. او د بالکل صحي کېدو دپاره يې مضبوط سند نهٔ شته. له دې وجې نه پرې دغه لاندېني اعتراضونه او شکونه هم کېدے شي.

(1) د اشرف خان هجري د ګرفتارۍ (1092هـ) نه پس چې د خټکو په خاندان کښې کوم مخالفتونه پېدا شوي وو. په هغو کښې يو مخالفت داسې هم ؤ چې په يوه پره خوشحال خان خټك او د هغهٔ ځنې زامن ولاړ وو او په بله پره بهرام او د هغهٔ ملګري ولاړ وو. په دې سلسله کښې سکندر خان خټك اشرف خان هجري ته د کن ته يو منظوم خط لېږلی ؤ. په هغې کښې دوه شعرونه چې يو کښې د خط ليکلو نېټه 6 محرم **1093هـ** ښودلې شوې ده او بل کښې د افضل خان د عمر متعلق وينا شوې ده. په ترتيب کښې پېش کولے شي.

ثلورم د محرم چې سن عنصبح* ؤ
په تلوار سړے روان وو ما و نهٔ وې

افضل خان د شلو کم و زيات په سن دے
په حکمت په مصلحت لکه کهن دے (12)

دغه شان چې د خط ليکلو تاريخ **1093هـ** نه د افضل خان د هغه وخت عمر شل کال وباسو نو د هغهٔ د پېدايش نېټه به **1093 – 20) 1073هـ** را

---

*عصبح: 1093هـ

وزي چې د 76 – 1075هـ پورتنی روایت په شك کښې اچوي خو دغه شعر کښې د کم و زیات الفاظ را تلل دا ښايي چې 1073هـ هم بالکل صحي او اعتباري نښه نۀ ده.

(2) د تاریخ مرصع د معلوماتو مطابق خوشحال خان ختټك په خپل ژوند خپل نمسي افضل خان ته نوابي ورکړې ده. دغه وضاحت د تاریخ مرصع د لاندیني اقتباس نه کیږي:

"ښادي پورته زۀ (افضل خان) بیا ورغلم د خان علیین مکان لیدو ته. د شال څېره یې را وغوښته از رویي مهرباني یې په خپل لاس دِ ما په سر وتړله او را ته یې و فرمایل چې پلار دِ یعني خان جنت مکان ته ما سرداري نۀ ده ورکړې په خپل اختیار سردار شوے دے. تا ته سرداري ما درکړه"(13).

د شېر علي خان مجمع الانساب د افضل خان د سردارۍ اغاز د 1093هـ نه ښايي. د افضل خان د پیدایش نښه که 76 – 1075هـ وګڼلے شي نو د سردار کېدو په وخت د هغۀ عمر (1093 – 76 – 1075هـ) تقریباً اوولس (17) یا اتلس (18) کاله جوړیږي. د اوولسو یا اتلسو کالو کم عمره هلك ته سرداري ورکول د امکان نه لرې معلومیږي. د سردارۍ په وخت که مونږ د هغۀ عمر کم نه کم شل کاله هم وګڼو نو دغه شان د پیدایش نښه یې د 76- 1075هـ نه دوه یا درې کاله وړاندې کیږي او زوړ روایت مشکوك کوي.

لکه څنګه چې وړاندې ذکر شوے دے چې د افضل خان د پیدایش دغه تاریخونه اندازاً ټاکلي شوي دي. یا په اټکلونو اړ دي او د بالکل صحي کېدو مضبوط سند نۀ لري خو په کال 1993ء کښې د ښاغلي حبیب الله رفیع د تحقیق او مقدمې سره د دبیر دانش د چاپ کېدو نه پس په دغه بابله مونږ ته داسې سند په لاس راتلے شي چې د هر قسمه شك او شبهې نه پاك وي او د افضل خان ختټك د خپل لاس سند وي.

هر کله چې "دبیر دانش" په وړومبي ځل زمونږ دغه مسئله په یقیني ډول حل کوي، نو ضروري ده چې لږ شان تعارف یې و شي. په قول د رفیع صاحب:

"کم نه کم دوه زره کال اګاهو په سنسکرت ژبه کښې د "پنجا تنتره" په نوم یو کتاب و لیکلے شو چې په کښې ځنې هغه تمثیلي داستانونه را غونډ کړے شوي وو چې د پېړو پېړو نه مخکښې د خلقو په سینو کښې محفوظ وو. دې نه

علاوه د دربارونو اداب او طور طريقې په کښې ښودلې شوې وې. د کتاب ليکلو سبب دا ؤ چې په دکن کښې د امر شکتي په نوم يو بادشاه ؤ چې ډېر قابل ؤ خو ولې زامنو يې هغې علم و کمال نۀ لرلو هغۀ د سومتي نومې يو وزير په مشوره خپل زامن د ويشنو شرما په نامه يو برهمن ته وسپارل چې علم او پوهه ور وښايي. ويشنو شرما هغوئ دپاره پينځه داسې داستانونه ترتيب کړل چې باچاهانو او د هغوئ جانشينو ته يې زده کول ډېر ضروري وو. دغه پينځو داستانونو ته د "پنجا تنتره" يا پنجا کيانه نوم ورکړے شو. د دې کتاب مختلفې ترجمې د سرياني، عربي، فارسي، پښتو او نورو اروپايي ژبو نه د کليله دمنه، عيار دانش، انوار سهيلي، ګلشن آرا، علمخانۀ دانش، نګار دانش، همايون نامه، جام جهان نما په نومونو شوې. د دې کتاب پينځه ترجمې په پښتو ژبه شوې دي چې وړومبۍ په کښې افضل خان ختټک د علم خانۀ دانش په نوم کړې ده. او نورې څلور ابوالحسن هراتي، شاد محمد خان، ميا قاسمي او زيب کړې دي. د شاد محمد خان په ترجمه د تحقيق په وخت محترم حبيب الله رفيع د افضل خان خټک د ترجمې قلمي نسخې ته چې په پښتو اکېډمۍ کښې موجوده ده متوجه شوے دے. او د هغې نه يې د ترجمې تاريخ چې په يو شعر کښې ښودلے شوے دے را نقل کړے دے. شعر دا دے:

که تاريخ يې له ما غواړې راشئ واورئ
که يې و ګورئ يو ګنج د پښتنو دے (15)

1128 = 758 + 4 + 73 + 16 + 242 + 10 + 25

دغه شان د ترجمې تاريخ 1128هـ ق جوړيږي او د دغه ترجمې په وخت افضل خان د خپل عمر متعلق ليکي:

"پينځه ويشت کاله حکمراني چې په دا خپل قوم باندې وشوه. په دا سن چې عمر عزيز په درې پنځوس کال راغے. همداراز زوړ کتاب چې دستور العمل د خاص و عام دے او په ډېرو ژبو ترجمه شوے ؤ مګر په پښتو ژبه ترجمه مې کړ"(16).

دغه شان د کتاب د ترجمې تاريخ (1128هـ ق) ده چې د افضل خان د هغه وخت عمر (53 کاله) وباسو نو د هغۀ د پېدا ښت نېټه به (1128هـ ق –

53، 1575هـ ق را وزي چې د هر قسم شك او شبهې نه مبرا ده. ځکه چې دا د افضل خان د خپل لاس سند دے.

## (ب) د مرګ نېټه:

د مرګ د نېټې په بابله یې ښاغلي همېش خلیل دومره قدر ویلي دي چې تر 1136هـ پورې ژوند یې یقیني دے ځکه چې تر دغه نېټې پورې د خپلې کورنۍ حالات یې په تاریخ مرصع کښې راوړي دي. له دې نه پس د ژوند زمانه یې نۀ ده معلومه چې څومره ژوند یې کړے دے"(17).

د دې وېنا نه چې افضل خان د بهرام د مرګ نه پس یو شپېتۀ کاله حکمراني وکړه. د افضل خان د مرګ نېټه 1185هـ را وزي، ځکه چې د تاریخ مرصع د روایت مطابق بهرام په 1124هـ کښې وفات شوے دے. د مجمع الانساب مؤلف شېر علي خان هم په دې حقله څۀ نوے سند نۀ دے پېش کړے. مرحوم عبدالحی حبیبي صاحب هم په دغه سند تکیه کړې ده او په پښتانۀ شعراء (وړومبی ټوك) کښې یې کټ مټ د تاریخ خورشید جهان ښودلي معلومات را اخستي دي."(18)،

تقویم الحق کاکاخېل یې د نوابۍ یو شپېتۀ کاله دوره د پلار د بندي کېدو (1092هـ) نۀ ښایي او دغه شان یې د مرګ نېټه 1153هـ ښایي"(19).

صدیق الله رښتین په دې حقله پورتنیو رایو سره متفق نۀ دے او ښایي چې افضل خان د 1092هـ نه تر 1100هـ پورې اتۀ کاله بهرام سره د نوابۍ حاصلولو دپاره جنګونه کړي دي او په 1100هـ کښې یې نوابي حاصله کړې ده. په دې حساب چې د نوابۍ یو شپېتۀ کاله یې 1100 سره یو ځائے شي نو د مرګ نېټه یې 1161هـ خوا و شا ته رسي"(20).

ډاکټر اقبال نسیم خټك په دې حقله د 1153هـ او 1183هـ 1187هـ نېټې ښودلې دي"(21).

په پورتنیو تاریخونو کښې زیاته بروسه په کال 1153هـ او 1183هـ شوې ده. د 1153هـ نېټه هم مضبوط سند نۀ لري او د 1183هـ نېټه په تاریخ

خورشيد جهان اداڼه لري. تاريخ خورشيد جهان په خپله غالباً د کاظم خان شيدا په هغه قطعه اداڼه لري چې د پلار د مرګ قطعه يې ګڼلې شوې ده. قطعه دا ده:

چې والد مې ارتحال وکړ
جا يې جنت شۀ دنيا زندان وۀ

تاريخ دا رنګ د رحلت وه وِ
خرد و ما ته مباشت د شهبان وۀ

دغه قطعه چې پورته ذکر شوه حبيب الله رفيع د کاظم خان شيدا د ديوان د هغه قلمي نسخې نه په اصلي شکل کښې را نقل کړې ده چې د شيدا په ژوند په کال **1192**هـ کښې ليکلې شوې وه او د اسلاميه کالج په کتابتون کښې محفوظ ده"(**21**).

وړومبی خو دا خبره هم د شك نه بهر نۀ ده چې کاظم خان شيدا د افضل خان ختك يقيني زوئے ؤ خو که هغه د افضل خان زوی هم وګڼو نو په پورتنی قطعه کښې د محترم رفيع صيب اصلاح ته به متوجه کيږو چې وايي:

"دغه قطعه کښې د "والد" لاندې د هغه وخت د روايت مطابق يو "زېر" نۀ اچولو په سبب دغه قطعه د شيدا د پلار ګڼلې شوې ده. حقيقت کښې دغه قطعه د شيدا د مور په مرګ ويلې شوې ده. ځکه چې د "والد" په ځائے "والدې" و لوستل شي نو وزن به يې هم برابر شي او وړومبی مصرعه به داسې شي:

چې والدې مې ارتحال وکړ

دغه اصلاح ته په وړومبي ځل کامل مومند مرحوم هم اشاره کړې ده. ښاغلي رفيع يې نوم نۀ دے اخستے. د افضل خان د مرګ چې کومې نېټې **1153**هـ، **1173**هـ او **1183**هـ **1187**هـ ښودلې شوې دي که په دغو د تاريخ مرصع د معلوماتو مطابق غور و شي نو د هغۀ مرګ د **1153**هـ خوا و شا اټکل کيدے شي. ولې وروستی ذکر شوې نېټې تر ډېره حده د امکان نه لرې کيدے شي. په تاريخ مرصع کښې افضل خان ليکي چې:

"په سن زر سل اتۀ ویشت عزت د عبدالله شمشېر د قابل بنګش پس د قابل د عبدالله د واقعي چې اصالت بد مصلحت د اسماعیل ورارۀ بې تقصیره مړ کړۀ. نظام پورته ورغلل..... فرزندي سعید خان فوځدار د لاچۍ وۀ"(23).

د پورتني اقتباس مطابق افضل خان په کال 1129هـ کښې د خپل زوئے سعید خان د لاچۍ د فوځدارۍ ذکر کوي. په دغه وخت به د سعید خان عمر کم نه کم د شل پېنځویشت کالو خوا و شا ؤ. سعید خان د افضل خان مشر زوئے هم نۀ ؤ. هر کله چې په 1129هـ کښې د سعید خان عمر د شلو یا پېنځه ویشتو کالو خوا و شا کېدائ شي نو د مشرانو ورونو عمرونه به یې د دې نه هم زیات وو او په خپله افضل خان خو به ضرور د بوډاوالي عمر ته نزدې ؤ. په دې لحاظ مونږ ویلے شو چې په کال 1129هـ کښې که افضل خان د بوډاوالي عمر ته نزدې ؤ نو د هغې (1129هـ) نه پس د ژوند زمانه یې 1153هـ ته خو رسېدے شي ولې 1183هـ یا 1187هـ ته رسېدل یې د امکان نه لرې معلومېږي.

وراندې ذکر و شو چې د افضل خان ختټك هغه اقتباس ته یو ځل بیا راجع شو کوم چې په زېر نظر مقاله کښې د هغۀ د پېدایښ د نېټې معلوملو دپاره د د بیر دانش نه اخستے شوے دے. نو مونږ ته د هغۀ د مرګ د نېټې په بابله باوري سند په لاس راتلے شي. په دغه اقتباس کښې د "علمخانۀ دانش" د ترجمې نېټه 1128هـ ښودلې شوې ده. تر دغه وخته پورې د خپلې نوابۍ دوره پینځویشت کال او خپل عمر درې پنځوس کاله ښودلے شوے دے. نو معلومه شوه چې د دۀ نوابي د 1128 – 25 کاله 1103هـ نه شروع شوې ده. کله چې د دۀ عمر 1103هـ - 1075هـ اتۀ ویشت کاله ؤ. دغه شان که د تاریخ خورشید جهان دغه الفاظ چې:

"محمد افضل خان شصت و یك سال حکمراني بالاستقلال نموده. انتقال کرد".

صحې و ګڼلے شي نو د مرګ نېټه یې 1103 + 61 کاله 1164هـ را وزي. د تاریخ مرصع دغه روایت کښې چې خوشحال خان په خپل ژوند افضل خان ته نوابي ورکړې ده. دومره قدر ویل کېدے شي چې د خپل نیکۀ له طرفه د اجازت باوجود هغه چا نوابۍ ته نۀ دے پرېښودے بلکې په مستقله توګه د نوابۍ ابتدا یې د خپل نیکۀ د مرګ نه پس په 1103هـ کښې شوې ده.

❁❁❁

# ماخذونه


(1) خټک افضل خان، بازنامه، اداره علم و فن پاکستان، 1194ء ص 13، 14.

(2) طائر محمد نواز، سريزه، مشموله بازنامه، خوشحال خان خټک، پښتو اکېډمۍ پېښور يونيورسټي، 1986ء، مخ 3.

(3) خټک افضل خان، بازنامه، بحواله بالا، مخ 3.

(4) خټک خوشحال خان، بازنامه، پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي 1985ء، مخ 43.

(5) خټک افضل خان، بازنامه، مخ 22.

(6) ايضاً مخ 5.

(7) ايضاً مخ 5.

(8) خټک خوشحال خان، دستار نامه، مرتبه (پردل خان خټک).

(9) ايضاً مخ 240.

(10) د خوشحال خان خټک د فراق نامه، (کابل چاپ) په سريزه کښې د مرحوم عبدالحي حبيبي صاحب په حواله ښاغلي زلمي هيواد مل د يو شعر نه د فراق نامې د ليکلو نېټه 1075هـ را ويستې ده.

(11) خټک خوشحال خان، فراق نامه، کابل چاپ، پښتو ټولنه کابل، (س ن) مخ 77.

(12) خټک ډاکټر ايم اقبال نسيم، د رنګ اوبو قافله، ادارۀ علم و ادب پاکستان، صوبه سرحد، 1991ء، مخ 119، 120.

(13) خټک افضل خان، تاريخ مرصع، مرتب دوست محمد خان کامل مومند، يونيورسټي بک ايجنسي پېښور، (س ن) مخ 250.

(14) رفيع حبيب الله، مقدمه مشموله، دبير دانش، پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي، 19ء مخ 6.

(15) ايضاً مخ 42.

(16) ايضاً مخ 51.

(17) ختټک افضل خان، بازنامه، مخ 8.

(18) حبيبي عبدالحی، پښتانهٔ شعراء وړومبے ټوک، يونيورستي بك ايجنسي پېښور، (س ن) مخ 54.

(19) کاکا خېل، تقويم الحق سيد، په حواله د اواره شهدا د حبيب الله رفيع د امان کتاب خپرولو مؤسسه. 1991ء مخ 14، 15.

(20) ايضاً مخ 15.

(21) ختټک اقبال نسيم ډاکټر، د رنګ اوبو قافله، مخ 209.

(22) رفيع حبيب الله، اواره شهدا، مخ 46، 47.

(23) ختټک افضل خان، تاريخ مرصع، مخ 343.